# ماشومانو مقدس کتاب

## وړاندې کونکے

# د خدائ په آمان فرعون!




لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Janie Forest
Alastair Paterson

خوښونکے: Lyn Doerksen

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries



مددگار: Bible for Children
www.M1914.org



©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نۀ شئ.






فرعون خفه وو. خدائ پاک هغۀ له د موسی په ذریعه د اسرائیلیانو غلامانو د مصر نه د پرېښودو حکم ورکړو. او هغۀ انکار کړے وو.


فرعون د خپلو غلامانو
مشر له حکم ورکړو، د
دوئ نه سخت کار
واخله. اوس د بني
اسرائیلو د پاره حالات
نور هم ګران شو.
3


او هغوئ دې اوس د خښتو د پاره بوس هم په خپله پیدا
کوی. اوس به مونږ هغوئ له نور بوس نۀ ورکوو. خو
خښتې به هم د اول هومره جوړوی. دا د فرعون حکم وو.
4


د هغه غلام مشر چا چې
به د دوئ نه په زور کار
اخستلو، هغۀ څۀ غلامان په کوړو
ووهل. ځکه چې هغوئ سره
د بوس راغونډولو د پاره وخت
نۀ وو. او بیا به هم هغوئ ډېرې خښتې
جوړول وو.
5


خلقو دا ټول الزام په موسی او هارون
باندې ولګولو چې د
هغوئ په وجه باندې په
مونږ دا مشکلات راغلل.
موسی د دعا د پاره یو
ځائ وکتلو. هغه په چغو
ووئیل چې اے خدایه پاک
تا خپل بچ نۀ کړل. خدائ
پاک ورله جواب ورکړو.
زۀ ستاسو مالک خدائ
پاک یم او زۀ به تاسو د
دې ځائ نه بهر راوباسم.
6


بیا خدائ پاک موسی او
هارون فرعون له واپس
ولیږل. او چې هغه
طاقتور بادشاه د خدائ
پاک د بنیادمو نه د خدائ
پاک د طرف نه رالیږلې
شوې نښې وغوښتلې.
نو د هارون امسا په
مار بدله شوه.
7


فرعون غصه شو، او وې وئیل چې زما جادوګران زر
تر زره راوغوړئ. او چې هغه
مصریانو جادوګرانو هم خپلې
خپلې امسا ګانې په زمکه
ګزار کړې. نو د هرې یوې
امسا نه مار جوړ شو. خو د
هارون امسا هغه ټولې
امساګانې وخوړلې. خو اوس
هم فرعون انکاری شو او خلق
یې تلو تۀ
پرې نۀ
ښودل.
8


په ورپسې سحر موسی او هارون د سمندر په غاړه باندې
فرعون سره ملاو شو. او چې کله هارون خپله امسا د سمندر
اوبه له یوړه، نو خدائ پاک د سمندر
اوبه په وینه
بدلې کړې.
کبان مړهٔ شول. او
خلقو هغه اوبه نهٔ
شوې څښلے.
9


خو فرعون خپل زړهٔ سخت کړو. او هغهٔ اسرائیلیان د
مصر نه تلو ته پرې نهٔ ښودل.
10


موسی یو ځل بیا فرعون ته ووئیل چې تهٔ د
خدائ پاک دا خلق تلو ته پریږده.
خو فرعون بیا
انکار وکړو. نو بیا
خدائ پاک یو بل آفت
راولیږلو. او ټول مصر
د چیندخانو نه ډک شو.
هر کور، هر کوټه، تر
دې پورې چې اخلی
پخلی هغه لوښې هم د
چیندخانو نه ډک شول.
11


نو فرعون منت وکړو، چې زما د پاره
دعا وکړه چې خدائ پاک
دا چیندخان ختم
کړی. او زهٔ به ستا
خلق تا سره تلو ته
پریږدم. خو چې کله
چیندخان ختم شول نو
فرعون واپس خپله
فیصله بدله کړه. او
هغه غلامان یې
آزاد نهٔ کړل.
12


بیا خدائ په اربونو تعداد کښې مچان راولیږ. چې هغې ټول
ځناور او ټول خلق یې پټ کړل. خو فرعون بیا هم د خدائ
پاک حکم ونهٔ منلو.
13


بیا په
بله ورځ
خدائ
پاک
ماشی راولیږل. او خدائ پاک
د مصریانو په ځناورو باندې
بیماری راوستله. بیا خدائ پاک
په هغوئ پاندې د دانو بیماری
راوستله. او خلقو ډېر قسمه
قسم تکلیف تېر کړل.
14



د دانو د آفت نه پس،
خدائ پاک د ملخانو
یو لوئ لښکر
راولیږلو. هغه ملخانو
په زمکه ټول شنهٔ
ځیزونه وخوړل.
15
بیا خدائ پاک تر درېو ورځو
پورې مکمل تیارهٔ کړه. خو
فرعون ضدی بیا هم بنی
اسرائیلیان آزاد نهٔ کړل.
16
خدائ پاک هغهٔ له خبردارے ورکړو،
زهٔ به یو بل آفت در
ولیږم. په نیما شپه به
د ټولو انسانانو او
ځناورو وړومبی بچی
به مړهٔ کړے شی.
خدائ پاک اسرائیلو ته
وئیل کهٔ چرې تاسو د
خپلو دروازو په
چوکاټونو باندې بې عیبه
ګډورې وینه ولګوئ نو ستاسو
بچی به محفوظ پاتی شی.
17
په نیمه شپه باندې په ټول
مصر کښې ژړا او فریاد
آوازونه شو. او په هر
کور کښې کم از کم یو یو
کس مړ شو.
18
فرعون موسی ته منت وکړو
چې د دلته نه لاړ شه. لاړ شه او
د خدائ پاک خدمت وکړه. نو بیا
د خدائ پاک خلق د مصر د
سرحد نه بهر لاړل.
19
خدائ پاک موسی ته ووئیل چې
تاسو د فسحې اختر یاد ساتئ. ځکه چې د
خدائ پاک فرښته د اسرائیلو د کورونو نه تېره شوه.
او فرعون او د هغهٔ خلق یې ووژل.
20







موسی ووئيل، خدائ پاک به ستاسو د پاره جنګ
کوی. موسی د سمندر غاړې ته لاړو او خدائ پاک
طرف ته يې لاسونه اوچت کړل.

23









د خدایٔ په آمان فرعون!

دَ خدایٔ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قیصئ

شته دے

هجرت ٤ ـ ١٥

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ـ"
زبور 130:119

27




11 60

28

دا قیصئ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدایٔ په باره کښې ښودنه کوي چې چا مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدایٔ پوهیږی چې مونږ ډیر علط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وایي. د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدایٔ مونږ سره ډیره مینه کوي نو ځکه هغهٔ خپل یک یو زویٔ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمي او په سولئ خپل ځان قربان کړي.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته لاړو. کهٔ تهٔ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغهٔ نه د خپلو ګناهونو بخښنه غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړي. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به استوګنه کوی او تهٔ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کهٔ تهٔ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدایٔ ته ووایه.خوږه عیسی زهٔ ایمان لرم چې هم تهٔ خدایٔ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ شوې او اوس تهٔ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما ګناهونه وبخښه، چې زهٔ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم. زما مدد وکړه چې زهٔ ستا تابعداری وکړم او ستا زویٔ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدایٔ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا٣:١٢

29